# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

---

بروز پیر مورخہ 24 نومبر 1997

(بمطابق 23 رجب 1418ہجری)

جلد 8 | شمارہ

سرکاری رپورٹ

مندرجات | صفحہ نمبر


| | |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2 ۔رخصت کے لئے معزز اراکین کی درخواستیں | 5 |
| 3 ۔این ایف سی ایوارڈ پر بحث | 5 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز پیر مورخہ 24 نومبر 1997 بمطابق 23 رجب 1418ھ صبح دس بجکر پچاس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ خان چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝

وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ جَمِیْعًا فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَیْنٰكُمْ ؕ سَوَآءٌ عَلَیْنَآ اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَّحِیْصٍ ۝ وَقَالَ الشَّیْطٰنُ لَمَّا قُضِیَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِیَ عَلَیْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّآ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِیْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِیْ وَلُوْمُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِیَّ ؕ اِنِّیْ كَفَرْتُ بِمَآ اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِیْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ۝

(سورہ ابراهیم، پارہ ۱۳، آیات ۲۱ تا ۲۲)

ترجمہ: ټول خلق به الله تعالیٰ ته مخامخ کیږي نو د دنیا کمزوري خلق به غټانو ته اووائي چه مونږ خو ستاسو تابع وو نو آیا اوس تاسو خمونږ نه د خدائے عذاب څه قدر کمولے شئ - هغوی به ورته اووائي چه الله که مونږ د نجات څه لاره ښودلے وے نو مونږ به هم تاسو ته ښودلے وه. اوس مونږ ته یو شان خبره ده که چغے وهو او که صبر کوو خو خمونږ د خلاصئ هیڅ څه صورت نشته او چه فیصله اوشی نو شیطان به اووائي چه الله خو تاسو سره په حقه وعده کړے وه او ما هم درسره یو وعده کړے وه نو وعده خلافي مے اوکړه او خما خو په تاسو څه زور نه چلیدو ما خو صرف تاسو ته یو بلنه قدرے درکړے وه تاسو اومنله نو اوس ما مه ملامتوئ. بلکه خپل خپل ځان ملامته کړے نه زه ستاسو فریاد اوریدے شم او نه تاسو خما څه فریاد اوریدے شئ. نن زه پخپله د هغے خبرے نه بیزار یم چه تاسو به پخوا د خدائے سره شریک ګڼړلم - بیشکه الله داسے ظالمانو له دردناک عذاب مقرر کړے دے.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب! ایک ریکوسٹ کر رہا ہوں ۔ یوسف ایوب خان تشریف فرما ہیں اور چیف منسٹر صاحب تشریف نہیں لائے ہیں ۔

جناب سپیکر: په پوائنټ آف آرډر باندے نے جی ۔

جناب پیر محمد خان ، پوائنټ آف آرډر په یوه خاص مسئله باندے کوم جناب سپیکرصاحب، چه په اگست کښې خما په علاقه کښې سیلاب راغلے وو او د پورن چکیسر په مینځ کښې یو سړک بلاک شوے دے، ختم شوے دے۔

آوازیں ، دا خو پوائنټ آف آرډر نه جوړیږی۔

جناب پیر محمد خان ، په پوائنټ آف آرډر باندے هم خبره اُوچتے دے شی ۔ جناب سپیکر ، هغه څلور میاشتے اوشوے او پورن چکیسر روډ هغسے بلاک دے، په سیلاب کښې چه کوم ختم شوے وو، نو ختم شوے دے۔ چیف منسټر پخپله راغلے وو او زه په دے انتظارکښې وومه او ما په دے یو Call Attention هم ورکړے وو ۔ خو ډیر زیات کار وی نو راغلے به نه وی۔ چیف منسټر هم اکثر هاؤس ته نه راځی، هغه پخپله تلے وو او هلته کښې په هغه ځائے کښې نے جلسه کړے وه او اعلان نے هم کړے وو چه مونږ به زر تر زره دا روډ کُهلاؤ کړو، اوس څلور میاشتے اوشوے او روډ بلاک دے۔ جناب سپیکر صاحب! نو د صبر هم څه حد وی، ځکه چه زه د هغے علاقے نمائنده یم او د قوم د هغه تکلیف هم څه حد وی۔ زه اوس ډیر په افسوس سره وایمه چه مخکښې کال چه کوم سیلاب راغلے وو، شیرپاؤ خان وزیراعلیٰ وو، نو دوی چه لاړل نو یو ډیر لوئے پُل د منگلور سره سیلاب وړے وو، د هغے د جوړولو فوراً اعلان اوشو او په کروړونو روپئی په هغے پل باندے اولگیدے او په یو څو میاشتو کښې دننه دننه جوړ شو۔ دا سے

ئے خمونږه په علاقو کښې نور سیلابونه چه راغلی وو او څه سړکونه ئے خراب کړی وو نو د هغے دستی څه مرمتونه اوشول، څه پکښې پاتے شو خو بیا پکښې ا سمبلئی ماتے شوے ۔ دا خو چیف منسټر پخپله لاړشی او پخپله د یو سکیم اعلان اوکړی۔ دا کوم روډ چه تباه شوے دے، ختم شوے دے دا دوه علاقے پورن او چکیسر د والئی سوات په وخت کښې جدا جدا تحصیلونه وو، نو هغه دوه تحصیلونه بالکل د یو بل نه کټ شوے دی او په اګست کښې سیلاب راغلے دے، او کټ کړی ئے دی۔ تر ننه پورے هغه کټ دی۔ او چه چیف منسټر اعلان اوکړی او هغه اعلان په څلور میاشتو کښېپوره نه شی۔ جناب سپیکر صاحب ! نوزه خو دا خبره، چه تفصیل ورکوم نو ما له خو ژړا راځی۔ چه آخر په دے ملک او صوبه کښې دومره بے انصافی ده که چرے دا سیلاب د چیف منسټر په حلقه کښې راغلے وے یا د یوسف ایوب خان په حلقه کښې راغلے وے، سړک ئے بلاک کړے وے، نوآیا دا به څلور میاشتے بند پاتے شوے وو؟ چه یو سړک په یوعلاقے کښې د یو سیلاب د لاسه بند شی او څلور میاشتے پرے اوځی اوعلان ئے وزیر اعلٰی اوکړی او تر څلور میاشتو پورے په هغه باندے چا تر ننه پورے یوه ګیټئے هم نه ده ایښودے۔ جناب سپیکر صاحب ! که د روډ هغه Gang ئے هغے ته یو ځانے کړے وے او هغوی پرے کار کولے نو تراوسه به هغوی دا کھلاؤ کړے وو۔

جناب سپیکر : خما خیال دے پیر محمد خان بس تاسو په نوټس کښې راوستو دا Tea break کښې ورسره خبره اوکړنی اوپکار دا ده چه دا ستاسو اهمه مسئله ده چه په دے باندے خامخا حکومت څه غور اوکړی۔ انشاالله تعالٰی

جناب سرنگزیب خان : جی

جناب سپیکر : کہ هلته کښې هم لږ دغه وی -

جناب سرنگزیب خان : دے باره کښې نه دے جی- په 22 تاریخ باندے د کوهستان په یو ایکسیډنټ کښې چه کسان مړه شوی وو---------

**Mr.Speaker :** No, please take your seat, please take your seat.

جناب سپیکر : څه وائی دعا کوئ، دعائے خیر دِ قاری صاحب اوکړی-

جناب سرنگزیب خان : لس کسان پکښې زخمیان دی، د هغوی د پاره هم دُعا اوکړئ -

حاجی عبدالرحمان خان : سپیکر صاحب ! خمونږه د یو معزز ممبر قصوریه والد صاحب هم وفات شوے دے -

جناب سپیکر : د هغوی د پاره شوے ده، دعا اوکړئ کنه جی -

( اس موقع پر دعائے مغفرت ادا کی گئی )

حاجی عبدالرحمان خان : یو خل د قصوریه صاحب تره وفات شوے وو او بله ورځ نے والد صاحب وفات شوے وو-

جناب سپیکر : هغه ورځے شوے دی ورته عبدالرحمان خان ، هغه بله ورځے ورته شوے ده -

ملک نقیب اللہ خان : بله جی پسے نے وهل هم خوړلی دی -

جناب سپیکر : وهل نے خوړلی دی نو دهغے ورته دعا بیا تاسو اوکړئ-

ملک نقیب اللہ خان : او جی هغه هم -

## رخصت کے لئے معزز اراکین کی درخواستیں

<u>جناب سپیکر</u> : ان معزز اراکین اسمبلی نے رخصت کے لئے درخواستیں ارسال کی ہیں
جناب سلیم سیف اللہ خان صاحب نے 24.11.97 ' جناب عبدالحلیم قصوریہ صاحب نے
24.11.97' جناب محمد افتخار خان مومند ' 24. 11.97 اور سردار مشتاق صاحب نے

I Is the desire of the house that leave may be 25.11.97 تا 2 4.11.97

granted to the honourable Members?

(The motion was carried.)

<u>Mr.Speaker:</u> Leave is granted, to the honourable Members?.

## این ایف سی ایوارڈ پر بحث

The honourable Chief Minister, NWFP, in the capacity of Finance Minister or any honourable Minister on his behalf, to please move that the report on NFC Award be discussed by the Assembly and make a brief statement explaining the salient featuers of the report under Sub Rule(2) of Rule 200 of the Rules of Procedure and Conduct of Business Rules1988.

په دے کښې يو عرض زه اوکړمه جی که منسټر صاحب بيا وروستو کښې
دغه کوئ او Salient features او ټول هم بيا وروستو کوی خو Firstly
some body should move it, either the Chief Minister or the
Minister concerned,Where are they ?

<u>جناب نجم الدين</u> : سر په د ے دومره اهمه مسئله کښې، خما خيال دے څوک به

نہ وی، نہ بہ وی جی۔ غیر حاضر دی --------(قطع کلامی)--------

جناب پیر محمد خان ، بل حاجی عدیل تہ هم پہ دے کښې پتہ دہ۔ حاجی عدیل هم پہ دے کاروبار کړے دے، تلے راغلے دے، میټنګونہ ئے کړی دی۔

جناب نجم الدین ، حاجی عدیل صاحب هم دے۔

جناب پیر محمد خان ، خما خیال دے دوی بہ هم لږ Briefing ورکړی۔

جناب بشیر احمد بلور ( وزیر آبپاشی و آبنوشی ) ، مسټر سپیکر سر! زہ ریکویسټ کوم چہ پہ دے باندے دِ Discussion اوشی۔

Mr. Speaker: Next

وزیر آبپاشی وآبنوشی ، لکہ څنګہ چہ مونږہ اووے That it should be discussed.

Mr. Speaker: The motion before the House is that the NFC Award be discussed in the House. Is it the desire of the House that the report of the NFC Award be discussed in the House?.

The motion was carried

Mr Speaker: "Ayes" have it.

بشیر خان ! نومطلب دا دے چہ د هغے Salient او Features هرڅہ بہ بیا وروستو دغہ کوے داسے Procedure شو ټھیک شو جی۔

وزیر آبپاشی وآبنوشی ، دوی بہ پرے خپل Discussion اوکړی نو د هغہ نہ پس بہ بیا مونږہ پہ هغہ باندے خبرے کوؤ۔

جناب سپیکر ، لږ مخکښې نہ پتہ لګوئی کنہ جی، نو تاسو تہ ټول Procedure

معلوم وی۔

جناب احمد حسن خان ، جناب سپیکر صاحب ! ستاسو داسے زبردسته رهنمائی ده چه د مخکښې نه پته لګولو ورته هدو ضرورت نه پیخیږی (قہقہے)

جناب پیر محمد خان ، سپیکر صاحب ! ستاسو د فیصلے کار دے خو تاسو له د لارے د برابرولو ضرورت نشته۔ په رولز کښې دا خبره نشته، دا به دوی خان له په خپله جوړه وی، که دوی لار برابره وی، دوی به ټهیک کوی یا مونږه ئے برابرو ورته، نو بیا به پرے تاسو رولنګ ورکونی نو مخکښې دوی لارے مارے اوښانی۔

وزیر آبپاشی وآبنوشی ، سپیکر صاحب چه دے، نو هغه ټولے اسمبلئی ته Guide lines ورکوی او مونږه پرے پوهیږی او مونږه په هغے باندے عمل کوو۔

**Mr.Speaker :** Honourable Aftab Ahmad Khan Sherpao MPA,

Leader of the opposition to please start with the discussion .

(Applause)

جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ ( قائدِ حزب اختلاف ) ، اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیم ه بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم ه شکریه سپیکرصاحب ! تاسوصحیح اوفرمائیل چه رپورټ د این ایف سی په دے هاؤس کښې پیش شو نو پکار دی چه Salient features باندے حکومت مخکښې خبرے کړے وے، واضح کړے وے چه دا د دے بنه خبرے دی او خکه مونږه دا این ایف سی ایوارډ منلے دے نو مونږه به پرے بیا خپل Point of view ونیلے وو۔ خیر بهرحال په دے این ایف سی ایوارډ باندے په بحث کښې اکثر ډیرو ممبرانو خبره کړے وه۔ ما پرے هم کړے وو۔

خمونږه د اپوزیشن د سائډ نه سلیم سیف الله صاحب، محسن علی خان صاحب او پیر محمد خان صاحب هم کړے وه۔ د Treasury benches د طرف نه حاجی عدیل صاحب په دے باندے خبره کړے وه۔ نورو ممبرانو پرے هم خبرے کړے وے او په آخر کښں جناب لیډر آف دی هاؤس Winding up speech کښں هم په این ایف سی باندے خمونږه چه کومے خبرے وے او په هغے باندے تبصره کړے وه۔ هغه ټول ریکارډ ماسره پروت دے، د ټولو Speeches ، کوشش به دا کوؤ چه کومے خبرے مخکښں شوی دی، هغه دوهراوول نه غواړو ځکه چه هغه بیا یو ځل خبره شوے ده، په هغه باندے دوباره خبره کول څه معانی نه لری۔ بنیادی څیز جناب سپیکر صاحب ! یوڅواعتراضات هغه وخت کښں هم اوشو اووے چه دا بجټ په تقریونو کښں تاسو په این ایف سی باندے زیات وخت واخستواو په فیډرل بجټ باندے زیات وخت واخستو او بیا وروستو څه Assurances مونږ ته ملاؤ شو۔ مونږه په هغه وخت کښں وونیلی وو چه دا این ایف سی ایوارډ پکار دے چه د دے بجټ د هغے نه مخکښں یا هم په هغه ورځو کښں پیش شوے وے۔ مونږ ته کاپی ملاؤشوے وے نو مونږه به په هغے باندے په زیات تفصیل سره خبرے کولے شوے۔ اوس دا دے په فرورئی کښں دا ایوارډ شوے دے او دا اوس د نومبر آخر دے تقریباً دسمبر راغے او اوس په دے هاؤس کښں پیش شو او په دے باندے خبرے کیږی۔ جناب سپیکر صاحب! این ایف سی ایوارډ ولے ضروری دے او په دے باندے مونږه ولے زیاته توجه ورکوو او په دے باندے تنقید هم کیږی او د ټولو صوبو نه په دے باندے رد عمل راغلے دے۔ د هغے بنیادی وجه داده چه دا خمونږه Source دے او په دے این ایف

سی ایوارډ کښې تقسیم شوے دے لکه څنګه خه په یوکورکښې یو پلار اولګی او په خامنو باندے په مساوی طریقه باندے جائیداد تقسیم کړی۔ نو داسے دا هم یو تقسیم دے خمونږه د وسائیلو چه مختلف صوبوں لره به څومره حق ملاویږی او د مرکز سره به څه وی نو که دا لرے کړے۔ په این ایف سی کښې دا Divisible pool او ورسره اوس Net profits هم چونکه اوس تړی شویټ دی۔ چه دا ترینه لرے کړے نو بیا د دے صوبے سره خو خمونږه خپل وسائل خو تقریباً 9%, 8% دی۔ دا 90% به مونږه څنګه پوره کوؤ؟ دا صرف او صرف د دے نه چه مونږه دے ته ګورو چه د دے این ایف سی ایوارډ په ضمن کښې به مونږ ته څه ملاؤیږی۔ او د هغے مطابق بیا مونږه خپل بجټ جوړ وو او په هغے باندے عمل کوو چه بهانی څومره پیسے به Current expenditures د پاره وی۔ څومره پیسے به د ډویلپمنټ د پاره وی۔ دغه ټول د دے سره تړی شوے دی او دا کوم این ایف سی ایوارډ چه اوس راغلے دے۔ دا د پنځو کالو د پاره دے په دے باندے ما مخکښې خل هم وئیلی وو چه بحث خو پرے مونږه کوؤ، خو هغه Presidential proclamation چه دے۔ په هغے کښې مونږه اوس تبدیلی نه شو راوستلے۔ بهر حال په دے کښې به مونږه څه تجویزونه هم ورکوؤ، چه څه مونږه کولے شو، چه مونږه د دے نه زیات نه زیاته فائده اوچته کړو۔ جناب سپیکرصاحب ! زه دا خبره بار بار کومه او خمونږه د بعضِ ملګرو دا خیال دے چه مونږه په دے حکومت باندے بے جا تنقید کول غواړو او د دے نه څه Political milage اغستل غواړو۔ ما خپل د Budget speech کښې هم دا وئیلی وو او اوس هم دا وایم چه مونږه د صوبے د بهترنی، د صوبے د خوشحالئی د پاره، په هغه ورخ کله چه د

پختونخوا قرارداد وو نو په هغے کښې هم ما دا ونیلي وو- چه نوم به بدل شي خو آیا د هغے نه پس به څه کول غواړی- آیا دا صوبه به مونږه د ترقئي په لار باندے گامزن کوؤ؟ او دا صوبه به څنگه خوشحاله وو- چه د دے خلق خوشحاله شي او مونږه په دے باندے فخر اوکړو چه د دے صوبے د بهترئي د پاره دے اسمبلئي یا دے ممبرانو یو اهم کردار ادا کړے دے- هم دغه خمونږه بنیادي مقصد دے- جناب سپیکرصاحب ! دا ایوارډ ما مخکښې هم ونیلي وو چه په داسے وخت کښې د دے اعلان شوے وو چه الیکشن شوے وو او د الیکشن نه پس د دے ایوارډ نه تقریباً درے څلور ورځے پس په دے ملک کښې وفاقي او صوبائي حکومتونه جوړ شول او هغه ورخ هم کله چه تاسو دا این ایف سي ایوارډ پیش کړو- نو ما اوونیل چه په دے باندے غیر منتخب خلقو دستخطونه کړي دي- خمونږ وررور بشیر بلور صاحب په هغه وخت کښې هم دا اووے چه څنگه جناب سپیکرصاحب! تاسو ته پته ده چه ولے غیر منتخب خلقو په دے باندے دستخطونه کړي دي- او دا دوی په خپل وخت کښې د دے اعلان ولے نه کولو- دا یوه Valid خبره ده- مونږه به خا مخا د هغے جواب ورکوؤ- زه هم دغه دوه درے پوائنټه به اخلم- یو دا چه ولے په هغه وخت کښې او نه شولو؟ او د هغے نه پس په دے کښې څه بنیادي مسئلے دي؟ په دے څل کښې دا ټول طریقه کارتبدیل شوے دے- په هغے باندے به هم خبره کوم او په Net profits باندے به هم زه خبره کوم- خو د دے نه مخکښې دا زه ضروري گنړم چه خمونږه اکثر ممبرانو صاحبانو به ، تقریباً یوه میاشت به کیږي چه یو بیان راغلے وو، د بلوچستان د چیف منسټر، چه مونږه دا این ایف سي ایوارډ رد کوو او مونږه به د سنده گورنمنټ خان

سره اخلو او دواړه به یو Joint په دے باندے Stand اخلو - نو ما ورباندے بیان وکړے وو چه پکار داده چه خمونږ د صوبے مشران هم په دے باندے غور او فکر اوکړی او د دے د پاره یو Joint stand چه دوه ورکوتے صوبے اخلی نو دریمه هم چه ورسره یو ځائے شی نو خما په خیال باندے د هغے به زیات ښه اثر وی - جناب سپیکرصاحب! وړومبنے هم دغه پوائنټ چه آیا مونږه ولے د دے په هغه وخت کښې اعلان اونه کړو؟ او هغوی Non-elected خلقو اعلان اوکړو - جناب سپیکرصاحب! تاسو دے این ایف سی ایوارډ Terms of reference په هغے کښې که تاسو Para 9 and 10 اووائینی نو په هغے کښې دا لیکلی دی-

In terms of clause (1) of Article 160 of the Constitution of the Islamic Republic of Pakistan, the President was pleased to constitute the Fifth National Finance Commission( NFC) with effect from 23rd July, 1995. The fifth NFC held its meeting on 27th December, 1995 and decided to constitute two working committees groups on determination of growth rates, norms etc.

دا په هغے کښې دی، هغه اوشولو، په Para 10 کښې دی-

In addition, a Committee consisting of Provincial Finance Ministers was constituted to recommend the formula for sharing of revenues among the Provinces. However, this Committee was unable to arrive at a consensus. جناب سپیکرصاحب! چه د این ایف سی ایوارډ اعلان په هغه وخت کښې اُوشولو، Constitute شولو - او Terms of

reference چه کوم راغلی وو- په اتفاق سره نن افتخار خان مهمند صاحب
دلته کښې نشته دے- دوی د فنانس منسټر وو- اول خو مونږ ته په هغه
Terms of reference باندے اعتراض وو، دے صوبے ته، ځکه چه په هغے
کښې دوه Items چه کوم وو Sugar and Tobacco، هغه پکښې نه وو اچولی
شوی- دویم هغه مونږه Objection raise کړو- د هغے نه پس چه دا کوم
میټنګونه چه اُوشول- وړومبنے میټنګ د فناس په هغه وخت کښې
وزیراعظم صاحبه د فنانس منسټره هم وه- د هغوی په سربراهنی کښې
اوکړو او خمونږه د صوبے نمائندګی افتخار خان مهمند صاحب او ورسره یو
ممبر وو، هغوی کړے وه- هغوی په هغے کښې دا پوائنټ ډیر Adequately
raise کړو چه بهانی په دے Terms of reference باندے اول خو خمونږه
اعتراضات دی- په هغے کښې بیا هغوی دا اوونیل چه خیر دا Terms of
reference خو President دغه کړی دی- خو تاسو اوس په دے کښې خپل
مذاکرات اوکړئی او په هغے کښې بیا یو Jointly تاسو خپل یو
Recommendations پیش کړئی- په دے کښې دوئیمه خبره دا وه چه هغوی
په Divisible Pool کښې چه کوم دا Sharing formula وه- خمونږه هلته هم
حکومت وو، دا زه نه وایم خو It was the question of the Federation
versus the Federating Units چه هغوی وے چه دا Sharing formula هم
په دے کښې تبدیلی راویستل غوښتل او خمونږه دا دغه وو چه نا، فارموله دِ
هم دغه Eighty, twenty واله فارموله وی- د دے د پاره بیا هغه کمیټی څلور
واړه صوبو ته تلے وه او د هغه ځائے فنانس منسټر وو، ممبران وو او د هغه
ځائے د فنانس ډیپارټمنټ سره د ټولو سره د هغے پوره جائزه په څلور واړه

صوبو کښې میټنگونه اوشول- مونږه د آخری وخته پورے په دے بضد وو چه په دے فارموله کښې دِ تبدیلی نه راځی- ځکه چه په دے کښې به دے صوبے ته نقصانات وی او د هغے نه پس یو Jointly چه کوم پیش نه وو، په آخری هغے کښې پیش شوے نه وه- څلورصوبے تقریباً تقریباً په دے باندے agree ووچه یره دا فارموله دِ نه Change کیږی او په دے کښې Additional څه نور Taxes چه دی هغه دِ د دے Divisible Pool په هغے کښې دغه شی، ځکه چه د صوبو حالات ښه نه دی- بهرحال هغه او نه شوله او بنیادی وجه دا وه چه د دے صوبے په هغے باندے Stand اغستے وو او مونږه چه دا اوونیل چه دا Non-elected هغه دغه کړے دے- نو دا بنیادی هغه وه چه په دغه درے میاشتے کښې ولے ؟ ?Why did it become necessary چه اسمبلی Dissolve شوله- صدر صاحب دومره تادی اوکړه او په دغه درے میاشتے کښې دننه د دے این ایف سی ایوارډ فیصله اوکړه- که دا پریښودلے شوے وے نو مونږ ته خو څه اعتراض نه وو خو ټهیک ده که خمونږ په وخت کښې نه وی شوے دا کریډټ، ښه ځنګه بشیرخان هغه بله ورځ هم اوونیل چه 1990-91ء کښې این ایف سی ایوارډ هغه دغه کړے وو، کریډټ ئے اخستے وو نو مونږ ته خو څه په دے اعتراض نه وو، خو چه د صوبے د بهترئی د پاره چه کوم شے وی نو په هغے کښې مونږه اعتراض نه کوو- خو دا په دے دریو میاشتو کښې هغه کسان چه کوم Elected نه وو- هغوی په دے باندے دستخطے اوکړے نو دغه خمونږه ضرور اعتراض وو ځکه چه په هغے کښې هغه Power sharing دا Financialچه کوم Divisible Pool هغه Sharing formula چه ده، په هغے کښې تبدلی راغلله او د %20 ,80په ځائے %65.5 مرکز ته دا راوتله او

%37.5صوبو ته راغے- نو دا یو ډیرلوئے Change په دے کښې راغے چه مونږ دا ګنړو چه د دے سره نقصانات دے صوبے ته دی- دوی به، خما ملګری به په دے باندے دا بحث کوی چه په دے کښې نور ټیکسونه واچولے شول او ددےBase broad اوشولو نو خکه مونږه دا اوکړو- زه درته اوس هم دا وایم چه هم هغه زړه ټیکسونه کیدل صرف هغه زړه ټیکسونه کیدل او هم هغه 80, 20 فارموله استعمال کړنی نو دے صوبے ته به زیات وسائل ملاوٶیږی، کم به نه ملاوٶیږی او کوم ټیکسونه نور پکښې شامل شوی دی- هغه که امپورټ ډیوټی ده که کسټم ډیوټی ده- اوس Emphasis د حکومت په Sales Tax باندے دے او General Sales Tax او دا چه هغه شی، هغه خو مخکښې نه په Divisible Pool کښې وو- نو د هغے سره هسے هم هغه زیاتیږی- دا دواړه به کمیږی کسټم ډیوټی او امپورټ ډیوټی به کال په کال د دے تناسب سره به دا کمیږی- نو هغه ئے پکښې واچولو او فارموله ئے Change کړه نو دوی ته به خو وقتی طور باندے کیدلے شی خکاریږی نه، دا دے صوبے ته نقصان دے او یو خو دا اصولی هغه دے چه هغه %80, 20 فارموله ختم شوله- نمبر 2 دا چه د دے سره به نقصان د دے صوبے وسائلو ته رسیږی مونږ ته به هغه ملاویږی نه، د هغے مثال به هم خه تاسولره درکړم چه د دے کال تاسو هغه اوګورئی وائټ پیپر اوګورئی نو پروس کال مونږ ته سوله ارب روپئی خه د پاسه سوله ارب روپئی د Divisible Pool ملاؤ شوے وے او دے کال مونږه په خپل بجټ کښې پندره ارب روپئی ښایونو This is one of the reason چه مونږه هغه ،او خه اوس درته وایم چه دا مخکښې لږ خه هغه اوکړم نو دا پندره ارب روپئی به هم په دے کال ماته نه ښکاریږی چه دا پندره

ارب روپئی به دے صوبے ته ملاؤ شی۔ نو یو دا ډیر بنیادی هغه وو چه مونږه ولے هغه نه وو کړے د هغے ما د دے دپاره جواب درکړو۔ دویم جناب سپیکرصاحب! په دے این ایف سی ایوارډ کښې دوی یوه بله لوبه چه کړے ده، هغه داده چه یو نوے Concept ئے ورکړے دے۔ او وائی چه مونږه یو نوے Concept ورکړو، هغه Traditional هغه زَړه Terminology چه وه هغه مونږه بدله کړه - نوے Concept څه دے؟ هغے ته وائی National resource picture - وائی چه دا نوے طریقه کاردے او په دے طریقه کار باندے به مونږه اوس دا Resources تقسیم کوؤ۔ څه یو دوه منټه به په دے واخلم چه دا زوړطریقه کار څه وو او دا نوے طریقه کار څه دے ؟ بیا به تاسو ته پته اولګی چه خمونږه دے Fiscal autonomy باندے او Provincial autonomy باندے حمله شوے ده یا که نه ده شوے - زَړه Terminology چه کومه وه، طریقه کار چه کوم وو،هغے کښې به Bench mark مقررشو چه دے کال به ، این ایف سی کښې به Bench mark مقررشو چه د صوبے به دا اخراجات وی او دومره به خپل وسائل زیاتوی - د دے چه کوم Deficit وو هغه به د دے Divisible pool نه پورا کیدو هغوی به هغه راکوی، هغے سره به د صوبے یو طریقه کار هغه کوو۔ اوس دا نوے فارموله چه ده ، دا National resource picture چه دے دے کښې جناب سپیکر صاحب دوی وونیلی دی چه نه ، صوبے دے خپل دغه نه کوی مونږه به دا ټول دا وفاقی‌حکومت چه کوم وسائل دی او د وفاقی حکومت چه کوم اخراجات دی او د صوبے د حکومت چه څومره وسائل او اخراجات دی دا ټول به یو ځائے کړو او دا چه ټول یو ځائے شی نو دے نه پس به مونږه هغه څیزونه چه کوم ضروری دی

هغے ته به مونږه مخکښ Priority ورکړو - مثلاً Social sector expenditures, debt servicing,defence, development expenditure دا به ترے اوباسو او دا نور چه دی نو هغه به بیا هغه شانتے په هغے باندے به تقسیم کوو - بنیادی مقصد ئے دا وو چه ، د دوی دا پروګرام وو چه مونږه به Deficit چه دے په دے پنځوو کالو کښې د چار او تین ، چارته به ئے راولو او بیا به ئے 3% ته Deficit راولو - دا Deficit چه کم شی ، چه څومره وسائل دی مخکښے به کوشش دا کوو چه بهنی دا نیشنل لیول باندے Four percent deficit دغه شی - نو هغے ته چه کوم وسائل استعمال کیږی هغه به هغه شی چه نور ے کومے پیسے بچ شی نو هغه به صوبو ته هغه شانتے Allocate کیږی نو دا یو نوے طریقه کار دوی راویستلے دے - یو خو دا جناب سپیکر صاحب ! چه دا به ټول کال کښې مونږ ته پته نه لګی چه آیا مونږه په کال کښې د پاکستان څومره Resources جمع کړو - دوی خو یو Projection ورکړے دے هر یو کوارټر کښې په هغے کښې کمے راځی، په هغے به هم څه راځم - دویم دا چه څمونږه اے ډی پی به تر ډیر حده پورے به فیډرل ګورنمنټ کنټرول کوی څکه چه Priorities به هغوی جوړه وی - چه سوشل ایکشن پروګرام ته به Priority ورکوے Debt servicing خو د هغوی پرابلم دے Defence بیا Development کښې هم به هغوی دغه کوی چه بهنی دا Priorities والا دی هغے له به دغه ورکوی او د هغے نه پس که څه پاتے شو نو هغه به د صوبے دا نور Development له به پیسے ورکولے شو که پیسے وی - دا اوس بنیادی طور باندے ، خو هغه Four percent deficit چه کوم دے دوی واتی چه هغه به تاسو هغه شانتے ساتئے او دے کښې چه کوم

Four percent هغوی کوی د فیډرل هغه باندے هغه به Bank borrowing
په هغے باندے وی او که پیسه نه وی نو بس صوبو ته به وانی چه بهنی تاسو
سره پیسه نشته هم دغه یو څو میاشتے چه دا دلته دغه کیږی ، مونږه خو
وړے څه بجټ پاس شو او هغے کښی Speeches اوشو چه Rights of the
provinces would be protected او دا یو Surplus بجټ دے او دے کښی به
هیڅ هغه نه کیږی او مونږه ته به خپل حق ملاویږی ۔ دا دے پینځه میاشتے
تیرے شوے ، هم په دغے څه خبرے کول غوارم چه آیا هغه حق ، هغه وسائل
چه کوم دوی Project کړی وو آیا هغه ملاؤ شو او که نه؟ بل دے کښی چه
دوی دا National resources picture approach چه دے ، دے باندے چه
دوی ډیر Emphasis او وانی چه دا ډیر ښه دے ، په دے کښی دوی وانی چه
صرف د Current expenditure د پاره نه بلکه دے کښی به د Development
expenditure needs د Provincial Government چه دی Would be
partially financed by the Federal Government through the divisible pool.

اوسه پورے چه مونږه کوم اوکتل د اے ډی پی د پاره مونږه
Loans واغستل It's a soft term loan خو It's a loan د Divisible pool
نه هغه پیسه مونږه ته نه ده ملاؤ شوے ۔ او نه د آئنده د پاره امید دے چه د
Divisible pool نه چه کوم Resources راځی په هغے باندے به مونږه خپل ،
هغے کښی به څه مونږه ته بچت کیږی چه مونږه خپل Development
اوکړے شو او د نور د پاره یا د گرانټس یا د هغے څه توقع خمونږه نشته ۔
اوس هم هغه C.D.Ls دی چه کوم مخکښے وو هم هغه C.D.Ls به راځی او
هم هغه Cash development loans او په هغے باندے به تاسو گزاره کوے ۔

نو خه نه ئم خبر چه دے دغه ته ، په دے دا National resource picture چه کوم دوی دغه اوښايو دے باره کښې چيف منسټر په خپل Winding-up speech کښې هم د دے National resource picture باره کښې ، نوم ئے خو دا نه وو اغستے خو وئيل چه نوے طريقه کار مونږه دغه کړے دے شايد هغه وخت کښې هغه ته صحيح Picture معلوم نه وو - Picture ورته اوس معلوم شو چه دا پينځه مياشتے تيرے شوے دا National resource picture ورته معلوم شو چه څه National resource picture دے څکه چه ، څنګه چه دا کال شروع شو نو وړومبنے کوارټر کښې چه د دوی کوم Projections وو د هغه Projections نه کم دوی خپل Resources generate کړو - دے کوارټر کښې اوس چه کوم Analysis دی، ما سره د هغے Cutting شتے - هغوی وائی چه دے کوارټرکښې به سات آټھ ارب روپيه نور اضافی کمے راځی‌خمونږه Resources کښې او دے نه پس دا دوه نور کوارټرز چه دی هغے به هم دا انديشه ده څکه چه نن سبا جناب سپيکر صاحب که تاسو دے National economy ته اوګورے نو This is a stagnant economy - Tax reforms اوشو هغه Tax reforms چه کوم د حکومت توقعات وو نو هغه پورا نه شو - Concessions ورکړے شو چيف منسټر صاحب هم خپل Speech کښې اووئيل چه زيات ټيکسونه په خلقو باندے نه دے لګول پکار ټيکسونه دغه کم کول پکار دی چه زيات خلق ورکړی هغه فارموله په امريکے کښې کامیابه نه شوه نو دلته به څه کامیابه شی- نتيجه ئے دا شوه چه خمونږه Resources کښې کمے راغے چه Resources کښې کمے راغے نو هغه بله ورځه هم په دے Statements راغلے وو چه د Resources کمے دے

نو د Divisible pool نه به هرے صوبے ته کم Resources ملاویږی نو دا
بذات خود د دے خبرے یو نشاندهی ده چه کوم پندره بلین یعنی پروس کال
سوله بلین وو شخ کال پندره بلین Deficit شوے دے ۔ پکار دا ده چه
Inflations او دے څیزونو چه هغه نے دے مد کښ ایښودلے وونو پکار دا
دے چه دے کال کم از کم ستره بلین خو ایخودلے وے کنه ۔ پندره بلین نے
ایخودلے دی او پندره بلین به هم نه ملاویږی۔ نو دا په دے طریقے سره مونږه
ته چه کوم مشکلات جوړ شوی دی هغه ډیر سنګین دی او د دے نه دے
صوبے ته په دے کال خپل Current او Development expenditure په دے
دغه کښ پوره کول خما په خیال دا ممکن نه دی او دا به ډیر مشکلات وی او
دے د پاره به تاسو Borrowing کوے چه Borrowing کوے نو هم هغه خبره
چه بینک نه اخلے بینک به درله په ، چه کوم کرنټ د هغے Interest rates
هم په هغے به ورکوی۔ د مهتاب عباسی صاحب Main emphasis دا وو چه
مونږه خپل قرضونه ختم کړل او دے کښ به اوس څه نوم ئے دے مونږه دغه
نه اخلو او دا صوبه د ترقے په لار باندے ګامزن شوه ۔ بل چه ما کوم جناب
سپیکر صاحب کوم وئیل چه دا Infringement دے خمونږه په دے باندے دغه
دے په دے وجه اوس به فیډرل ګورنمنټ خو ګنړی چه بهنی بعضے سکیمونه
مونږه ورکړی په اے ډی پی کښ یا دغه کښ They can slash it چه نه د دے
د پاره دا دغه لړے کړے څکه چه مونږه سره وسائل نشته او Priorities به
هغوی مقرر کوی۔ نو دا به بذات خود خمونږه په Provincial autonomy
باندے یو قسم حمله ده، چه کوم خمونږه د پاره نقصانده ده ۔ بل دوی دا SAP
ټهیک ده SAP priority ده خو SAP پیسے د Divisible pool نه ته اوباسے

خمونږه خو ورکوټے صوبه ده خمونږه دومره دغه نه دے ـ په پنجاب کښ چه په SAP باندے زیاتے پیسے لګی سنده کښ زیاتے لګی هغه به هم د دے Divisible pool نه کټ کیږی نو هغه هم مونږه ته په دغه لحاظ سره ، هغوی خو به وائی چه دا د SAP د پاره ضروری ده او هغه څه نوم ئے دے ورکول ضروری دی هغه به هم مونږه ته د دے نقصان رسی نو دا بذات خود یو لوئے خمونږه د پاره نقصان دے ـ دونم خبره څه دا کول غوارم جناب سپیکر صاحب چه هم د دے اسمبلی په Floor of the House دلته دا خبره شوے وه لیډر آف دی هاؤس ونیلے وو چه ځنګه چه این ایف سی ایوارډ اعلان اوشو نو مونږه یو کمیټی جوړه کړه او هغه کمیټے Deliberations اوکړل او وفاقی حکومت سره هم هغوی ـ ملاقات ـ اوکړل ـ او هغوی خپل Recommendations جمع کړی دی او مونږه به په هغے باندے عمل کوؤ ـ اول خو زه په دے افسوس کوم چه د هاؤس یو کمیټی ، ګو Officially د هاؤس کمیټی نه وه ځکه چه هغه خو ستاسو د اجازت نه بغیر نه شی جوړیدے خو هغه کوم ممبران د کمیټے چه وو هغه ټول د دے هاؤس ممبران دی نو کم از کم دا پکار وه چه دغه کمیټئے رپورټ دے هاؤس کښ پیش شوے وے او هغه Recommendations چه کوم هغوی کړی وو نو کم از کم مونږه ته د هغے ، دے د پاره چه مونږه هم صحیح صورت حال دغه کړو چه د ګورنمنټ څه Thinking دی په دے او څه دوی اقدامات اغستے دی ـ د هغه کمیټئی رپورټ دلته پیش شوے وو نو مونږه به د هغے نه مستفید شوی وو ـ مونږه ته خو د دے کمیټئی رپورټ باره کښ اخبارات نه څه لږ ډیر انفارمیشن یا د یو ځائے نه بل ځائے ته ملاؤ شوے دے ځکه چه اوسه پورے د

هغه کمیټئ رپورټ چه دے هغه سیکرټ ساتلے شوے دے خو بهرحال دے کمیټئ خپل ـ څه Conclusions ورکړے وو ـ دے کمیټئ خپل Recommendation ورکړے وو ـ زه د آنریبل منسټر فار لاء اینډ پارلیمنټری آفیئرز چه جواب راکوی، زه به ترے دا تپوس کول غوارم چه آیا هغه Recommendations چه کوم، دے کمیټئ ورکړی دی ګورنمنټ ته، آیا هغے باندے عمل اوشو او که نه دے شوے؟ او که نه وی شوے نو ولے ؟ په هغے کښ د هغوی د Net profits په باره کښ ډیرخدشات وو، چه دا د Presidential order لاندے Protected نه دے ـ د لاء ډیپارمنټ نه دوی Opinion اغستلے وو هغوی هم وانی چه دا هغه نه دے ـ په دے کښ Matching grant والا خبره وه ـ دوی دا هم وونیلی وو چه دا این ایف سی ایوارډ چه دے نو دا په Grant-in-aid باندے زیات انحصار کوی، نو دغه هم هغه وه ـ بیا په دے کښ د افغان رفیوجیز نے خبره کړے وه چه دلته دومره مدے نه هغه شوی دی چه دے د پاره مونږ ته هغه ملاؤ شی او دا نے ضرور وونیلی وو چه On the whole هغوی د دے این ایف سی ایوارډ نه Satisfied نه وو، مطمئن نه وو ـ بیا نے دا Recommendations کړے وو چه دا Net profits چه کوم دی هغه دے کوم چه Projection شوے دی د هغے مطابق او په بجټ کښ هم شوے دی نو هغے مطابق دے دا دے تیس دن هغوی ورته وونیلی وو، تیس دن کښ دننه دے ورکړے شی دے صوبے ته او که نه وی نودا د دے صوبے حق واهلے کیږی ـ زیات تر هم هغه د Net profits او د Arrears باره کښ خبره شوے وه او هغے کښ خما په خیال اوسه پورے په یو Recommendation هم د هغے کمیټئ باندے عمل

نه دے شوے ۔ لیډر آف دی هاؤس دا وونیلی وو او د هغوی بیانات هم شته، په فلور آف دی هاؤس باندے هم هغوی وونیلی وو چه" ہمیں اپنے حقوق ملیں گے ۔ہم نے With reservations اس رپورٹ کو Accept کیا ہے" نو که With reservations دے دا رپورټ Accept کړے دے اوس پینځه میاشتے تیرے شوے مونږ ته دے دا اووانی چه آیا د هغوی هغه Reservations چه کوم وو آیا هغه Reservations ختم شو او که ختم نه شو ۔ په دے مونږه ضرور غوارو چه په دے باندے دے مونږ ته جواب راکړے شی‌ځکه چه حال دا دے، هم د هغه مطابق چیف منسټر صاحب په خپل یو بیان کښ وونیلی دی چه Tax collection په First quarter کښ کم شوے دے او مونږ ته د هغے کمے پیسے ملاؤشوے دی او آئنده هم صورتحال ښه نه دے ۔ بل یو رپورټ وو چه په هغے کښ دا دی چه دا Foreign funded schemes چه دی، د دے د پاره هم د صوبائی حکومت سره پیسے نشته چه Rupee componant څه نوم نے دے چه په هغے کښ نے ورکړی او د هغے هم اندیشه ده چه دا Foriegn funded schemes چه دی دا دے هم بند شی ۔ د دے اوسه پورے چا تردید نه دے کړے ۔ په دیکښ یو بل رپورټ دے او په هغے کښ چیف منسټر صاحب دا وونیلی دی چه He dispell the impression that he had presented a deficit Budget in the House,and he said after getting clear cut assurance from the Federal Government in respect of payment of 'arrears of hydel net profit , they had accepted the NFC Award

خمونږه د انفارمیشن مطابق، دا Divisible pool خو پریږدے هغه Net profits هم چه کوم وو Six billion والا هغه کیپ والا خبره هم اوکړے

نو هغه هم پچاس کروړ د میاشتے چه کیږی نو هغه هم د دے میاشتے لا نه دی ملاؤ شوے۔ تیر میاشتو کښې هم پوره نه دی ملاؤ شوے، په هغے کښې کمے شوے دے ۔ زه په دے باندے زیاتے خبرے کول نه غواړم خکه چه خمونږه آنریبل ممبر همایون خان هغه بل ورخ تاسو ته د سپریم کورټ د یو فیصلے هم کاپی درکړے وه۔ هغوی به په زیات تفصیل سره خبره کوی۔ مونږ په دے باندے خان خبروِل غواړو چه سپریم کورټ دا فیصله کړے ده چه سر چارج او ایډیشنل ۔سر۔ چارج چه دی These will be part of the electricity tariff نو دا دوی په بیل هیډ کښې ولے ایږدی او د دے Net profits چه دے هغه مونږ له ولے نه راکوی ۔ د دے د پاره دا ضروری ده چه خمونږ به دا تجویز وی چه یو کمیټی دے جوړه شی او په دے دِ خبرے اوکړے شی چه سپریم کورټ فیصله ورکړے ده نو بیا خو سرچارج او ایډیشنل سر چارج دا د Tariff یو حصه ده نو دا خمونږه Net profits چه دا کوم اوس هم دوی Depict کړے دے 9.4 د دے نه زیات به مونږ ته به Net profits ملاؤیږی که دا صحیح معنوں کښې According to AGN Qazi formula هغه شی که هغه فارمولا اوس It is not being implemented upon هغوی هغه شانتے هغه فارمولے مطابق نه خی نو دے د پاره مونږه وایو چه په دے باندے دِ ضرور یو کمیټی جوړه شی چه د دے دِ کم از کم تعین اوشی او همایون خان به په دے باندے زیاتے خبرے کوی۔ دویم جناب سپیکر صاحب ! په دے ایوارډ کښې خمونږ دا تجویز دے چه دوی دا کوم نوے طریقه کار جوړ کړے دے National resource picture په دے باندے که دوی عمل کوی یا نه کوی حو خمونږه څه Financial projection چه دا کوم این ډبلیو ایف پی د پاره دوی

ورکړی دی دا Table A-9 دے۔ په دے کښې 98-1997 نه واخله تر 2001-2002 پورے Projections ورکړے شوے دی د Divisible pool نه خما به دا تجویز وی چه کم از کم د دے هاؤس نه دے یو متفقه آواز اوچت شی چه It should be ensured چه دے کښې کوم Projections ورکړے شوے دی دا Projections مونږ ته Guaranteed وی چه دا دے کال په کال ملاؤیږی دے نه که زیات وی نوزیات ټهیک ده خو چه د دے نه کم مونږ ته ملاؤ نه شی گنی خمونږه بجټ چه دے ، هغه بیا مونږه نه شو جوړولے، نه مونږه خپل حساب کتاب کولے شو او نه په هغے کښې مونږ ته څه Lieverage ملاؤیږی چه مونږه دا صوبه Develop کړو۔ مثلاً د دے کال د پاره Divisible pool transfers چه دی په هغے کښې Projections Rs 18904 Million دی۔ د بل کال د پاره Rs 22341 Million نو پکار ده چه کم از کم دا چه اوس Projections ورکړی دی دا خو دے راته ملاؤ شی۔ په دے کښې اوس مصیبت دا دے چه د دے کال وائټ پیپر که تاسو اوگورئی نو دے کال دوی د 18 ارب په ځائے پندره ارب روپے ایښودلی دی او هغه پندره ارب روپے چه مونږ ته ملاؤ نه شی نو خمونږه بجټ به څنګه چلیږی۔ کم از کم تاسو د 1995-96, 96-97 White papers اوگورئی - په 96-1995 کښې د Divisible pool نه Budget Estimates Rs 13,873 وو یعنی تیره ارب ستر کروړ او Revised estimate چه تاسو اوگورئی نو مونږ ته چوده ارب ، چونتیس کروړ ملاؤ شوے وو یعنی مخکښې نه چه کوم مونږه Projections کړے وو۔ د هغے نه زیات مونږ ته ملاؤ شوے وو۔ بیا 97-1996 کښې مونږ Projections کړے وو سوله ارب دو سو بائیس کروړ او ملاؤ شوے دی

تقریباً هم سوله ارب تیره کروړه دغه لږ ډیر Difference په کښې وو حو دغه
هومره لیول باندے هغه ملاؤ شوے دي- نو اوس مونږه دا غواړو چه که دا
اوس هغوی یو Tax structuring اوکړو او هغے سره د هغوی Resources
کم شی نو مونږه خوتباه شو، مونږ سره بیا پاتے څه شو- ځکه چه 90%
خمونږه Net profits او Divisible pool باندے انحصار دے، چه په دے کښې
کمے راغے نو بیا به دا صوبه مونږه څنګه چلوؤ؟ نو دا خمونږه تجویز دے
چه په دے که د یو قرارداد په شکل کښې یا د Consensus په شکل کښې کم از کم
مونږه دا یو آواز اوچت کړو چه کوم Projections شوے دی د هغے
Psrojections مطابق دے زمونږ دِ صوبے ته وسائل ورکړی ګنی دا صوبه
به چلیدے نه شی- خمونږه چیف منسټر صاحب اووے چه سخکال بجټ چه
دے، دا Deficit budget نه دے- زه ورته اوس ثابتوم چه دا Deficit budget
دے، چه نو هزار چار سو دوی Project کړے دی چه اوسه پورے پنځوؤ
میاشتو کښې تاسو ته دا نو ارب، سارے نو ارب روپے چه کومے د Net
profits دی په هغے کښې One third هم نه دی ملاؤ شوے، هیڅ نه دی ملاؤ
شوی- نو دا به څنګه پوره کوے- ورسره دا پنده ارب چه کوم د
Divisible pool دی هغے کښې دا دے کمے راروان دے - دا کیدے شی باره
ارب ته شی ، تیره ارب ته شی دا څنګه یو Surplus budget دے یا یو
Balance budget دے It is a deficit budget نو دے د پاره مونږه وایو چه
دا مونږه د دے کال دا کوم بجټ چه دے یا دے وائټ پیپر کښې چه کوم
Figures دی، مونږه دا ټول دا محسوس کوؤ، دا احساس اوکړو چه دا
Surplus budget په هیڅ صورت کښې نه دے- دا یو Balance budget په

هیڅ صورت کښې نه دے بلکه دا یو Deficit budget دے او د دے Deficit نقصانات به دے صوبے ته آخر کښې هم دغه رارسی چه خرچه به مونږه نه شو پورا کولے ۔ دا د کوم خانے انصاف دے جناب سپیکر صاحب ! چه وائی چه 4% هلته Deficit به تاسو برقرار ساتے او دے د پاره تاسو خپل خرچے کمه وے ۔ خرچے د صوبے به خا مخا چه Development کیږی، خصوصا سوشل ایکشن پروګرام له خو دونی Priority ورکړے ده ۔ سوشل ایکشن پروګرام کښې څه دی، سکولونه دی ، نور د ا سوشل هغه کښې څه دی، هغے کښې به نوکران لګی ، په هغے کښې به تنخواګانے ورکړے کیږی ۔ ستا کرنټ بجټ به خوا مخواه اوچتیږی، هغے کښې کمے نه شی راتلے ۔ دغه لحاظ سره چه دونی وائی چه تاسو خپل ، هغوی دے خپل هاؤس In order کړی چه هلته اوس هم په دے کښې دا چه کوم این ایف سی کښې کوم خبرے شوے دی چه مونږه به خپل Priorities ایږدو او Priorities مطابق به دا بجټ چلوؤ او صوبو له به هم هغه شانتے ورکوؤ هغے کښې سوشل ایکشن پروګرام او دغه دی ، په هغے کښې موټر وے یو خانے کښې هم ذکر نه دے چه څومره فنډز اوس هغه موټر وے ته Divert شوے دی څمونږه صوبه او دا نور صوبے په دے باندے Speech شوے دی ، ټهیک ده، د هغے خپل یو اهمیت دے۔ د هغے څه دغه لحاظ سره خبره نه کوم خو موټر وے دے هم جوړ شی نور پراجیکټس دے هم اوشی خو د دے صوبے چه کوم حقوق دی هغه دے Forego نه شی۔ مونږه هغه هغے ته تیار نه یو چه ددے صوبے حقوق چه دی هغه دے مونږه Forego کړو یا مونږ ته دے په دے وجه باندے کم وسائل ملاؤ شی چه هغے سره مونږه ته نقصان اورسی ۔ نو جناب سپیکر !

خه درے پوائنټ باندے به صرف Stress کومه - یو دا چه دا نوے فارمولا چه دوی کومه جوړے کړے ده، په دے باندے دے خونږ صوبائی حکومت دوباره هغوی سره کینی او Discussion دے ورسره اوکړی چه دا طریقه کار چلیږی نه او د دے نه مونږ ته نقصان دے۔ دا خونږه په Provincial autonomy باندے یو قسم اټیک دے او We cannot afford it او خونږه خپل Priorities دی هغه Priorities باندے چلیږو او مونږه د فیډرل ګورنمنټ په Priorities باندے نه چلیږو۔ دویم چه کوم Projections په دے این ایف سی ایوارډ کښ، ما خو درته اووے چه په دیکښ اوس د څه حده پورے Manoeuvrability خان له پیدا کول دی نور خو هغه کارخو شوے دے اوبه د سره تیرے شوے دی چه کوم هغه پروجیکشن شوے دی That should be ensured چه هغه پروجیکشن مونږ ته کال په کال ملاوېږی دا دویمه خبره ده - دریم چه یوکمیټی دے جوړه شی چه هغه د سر چارج اوایډیشنل سرچارج چه کوم سپریم کورټ کومه فیصله کړے ده چه This ispart of the SOP, Source of power. نو دا دے د هغے مطابق، دا دے په هغے کښ واغستلے شی چه کله Calculation کیږی او مونږ ته د هغے مطابق خپل حق ملاؤ شی - څلورم چه دا کوم اوس مونږ سره Shortage دے د فنډز، څکه چه د وفاقی حکومت نه نه ملاوېږی ، د Divisible pool نه او Net profits نه۔ نو پکار ده چه په دے باندے هم دا هاؤس دے یو مشترکه آواز اوچت اوکړی چه خونږه فنانشل پوزیشن څنګه چه بلوچستان وونیلی دی چه مونږ ته مشکلات دی او مونږه په دے وسائلوکښ دا صوبه نه شو چلولے - نو پکار دا دی چه مونږه هم په دے باندے آواز اوچت کړواو د

بلوچستان او سندھ چه کوم ستینډ په این ایف سی ایوارډ باندے اغستلے دے، په کار دی چه دا صوبه هم هغوی سره په دے کښ مشترکه یوستینډ واخلی چه فیډرل گورنمنټ ته دا احساس ورکړی چه دے صوبو ته دیرنقصان دے کنی دلته به هیڅ Development کار نه کیږی۔ د تنخواګانو اوس هم دا صورتحال دے او دومره بیانات پرے راغلی دی چه تنخواګانو د پاره پیسے نشته، نو د دے پراونشل اټانومی او فزیکل اټانومی چه ده، په هغے باندے فیډرل گورنمنټ دومرهٔ یلغارکړے دے او د هغے نه ته نقصانات دی۔ دا خما تجاویز دی اوخه امید لرمه چه دے هاؤس کښ ډیر، خه افسوس کومه چه دوه قابل بلکه درے قابل سابقه فنانس منسټرز او مالیاتی ماهرین، هغوی نن موجود نه دی، پکار دی چه د هغوی خبرے مونږه اوریدلے وے اود هغے نه مونږ ه فائده اوچته کړے وے خو دا څه خبرے چه ما اوکړے نوښوک دے دا محسوس کوی نه چه دا د Political mileage دپاره دی بلکه دا د صوبے د بهترنی او د صوبے د مفادو د پاره دی۔ ډیره مهربانی۔ --------( تالیاں )---------

**Mr. Speaker** : The sitting is adjourned for tea break and we reassembled after half an hour. Thank you.

( اس مرحلے پر چائے کے لئے ایوان کی کارروائی ملتوی ہوگئی۔ )

( وقفہ چائے کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔ )

جناب سپیکر : جدون صاحب ! تاسو څه خبره کوله، څه مو وونیل؟

جناب غفورخان جدون : ما خو جی تاسو ته دا ریکویسټ کړے وو، ستاسو چیمبرته مے تشریف راوړے وو۔ تاسو ته مے دا ریکویسټ کوو چه یو خو هغه ګدون امازئی انډسټریل اسټیټ باندے که سبا تاسو ګهنټه نیمه Time

کیښوده او بل په دے پیهورهانی لیول کینال باندے ما یو کال اټینشن نوټس تاسو ته درکړے دے که سبا په کښې جی یو پینځلس مینټه ورله کیږدئی نو زه به ستاسو ډیر زیات مشکور یم جی۔

جناب سپیکر: د سبانئی ایجنډے پته به وروستو لګی چه څه به کیږی۔ چه وروسے دا اوکړو چه د دے څه پوزیشن دے ؟ د هغے باره کښې به بیا ګورو۔

جناب عفورخان جدون : او جی۔ یو ریکویسټ مے کوؤ که تاسو دا سبا Consider کړنی جی۔

جناب نجم الدین : ما عرض دا کوؤ جی چه د اسمبلی نه بهر ایف ډی سی والا څه کسان په دے روډ کښې ولاړدی، غریبانان دی۔ څه ما وونیل چه د هغوی متعلق مخکښې مے هم دوه درے خله څه خبره کړے وه او منسټر صاحب دے ورشی او هغوی له دے تسلی ورکړی او څه حل دے د دغه خبرے را اوباسی جی۔

جناب عبدالسبحان خان : د هغوی خو جی نمائندګان راغلل بشیربلورصاحب ورسره هم وو او چیف منسټرصاحب سره ئے نمائندګان ملاؤ شو۔ هغوی ئے ښه تسلی اوکړه او سبا له ئے ور سره یو بجه میټینګ د چیف منسټر صاحب کیښوده۔

جناب اکرم خان درانی : جناب سپیکرصاحب ! دا آر ډی سی متعلق هغه بله ورځ خما چه کوم یو توجه دلاؤ نوټس وو نومنسټر صاحب ته مونږ دغه خبره په هغے وخت باندے سرګندوله چه دا خلق مجبور دی او هغه د جلوس په شکل باندے بهر راځی، نو په هغه ورځ باندے منسټر صاحب هغے ته څه

خاص توجه نه ورکوله نو نن د هغے Result دا دے چه هغه خلق چه هغه هفته مخکښ ما د هغے دپاره دلته وینا کړے وه که چرته منسټر صاحب په هغے ورخ باندے څه داسے مناسب غوندے جواب ورکړے وے نو شائد چه هغے خلقوته به نن دا ضرورت نه وو پیښ شوے چه هغوی په ګیټ باندے خواران ولاړ دی دلته او په ټولو روډونو باندے ئے چکرے اولګولے او هغوی سره زیاتے دے، ظلم دے جی، چه تقریباً سوله سو کسان د روزګار نه ویستلے کیږی نومنسټرصاحب ووئیل چه هیڅ قسم خبره نشته دے نو هغه خبره خو نن که منسټر صاحب وے نو مونږ به ورسره کړے وه چه تاسو لږ بهر اوځئی په دے ګیټ باندے چه هغه خلق راغلی دی چه څه خبره شته اوکه نشته جی۔؟

**Mr. Speaker : Mohtaram Begum Naseem Wali Khan Sahiba MPA to please start with the discussion.**

بیگم نسیم ولی خان : ډیره شکریه محترم سپیکر صاحب ۔ ستاسو په اجازت نن چه په کوم څیز باندے په هاؤس کښ بحث روان دے، دا خو څما خیال دے څه نوے شے نه دے په دے باندے څوځوځله د خلقو رائے، د خلقو خبرے، خیالات او تقریباً تیر بحث کښ په دے باندے ډیرلوئے د اپوزیشن د طرفنه هم او د حکومتی ډلے هم چه څومره خبرے ئے پرے کولے شوے، خبرے ئے پرے کړے دی ۔ زه ډیره زیاته مشکوره یم چه څما نه مخکښ آفتاب خان تقریر اوکړو او ډیرے زیاتے داسے خبرے، چه هغه پکار وے چه په فلور راشی او چه خلق د ترینه هم خبرشی ، هغوی د هغه ټولو خبرو نشاندهی اوکړله او په ریکارډ ئے راوستلے ۔ زه به د این ایف سی ایوارډ په حواله

باندے اعدادوشمار ته هم نه ځم او هغوی اوس او وروستو او مخکښې دغه ته به هم نه ځم۔ تاریخی پس منظر به نے یو پوتے شان ستاسو په اجازت باندے دے هاؤس ته پیش کړم۔ دا این ایف سی ایوارډ چه دے، دا یوآئینی تقاضا ده او دا آئینی تقاضا د 1973ء د آئین په جوړیدو، چه آئین کله اولیکلے شواوآئین دستخط شو، په هغه وخت کښې چه ورته به خه اووایم چه د پاکستان واحد یو داسے آئین وو چه په هغے باندهے د هرسیاسی جماعت هغه کوم لیډران وو، ټاپ لیډرشپ چه وو هغوی پرے خپل دستخطونه کړی وو۔ د هغے آئین په حواله باندے د صوبو د خودمختارئی او د صوبو د حقوقو یو دائره کار وضع شوے دے او د هغه 1973 نه راواخله هر خل چه حکومت راغلے دے مونږ هم دغه شور پکړ اچولے دے چه یوه آئینی تقاضا ده او دا آئینی تقاضا پوره کړئی ۔ په هرځل دا شے بانی پاس شوے دے او دا شے ورځ په ورځه ډیریده تر دے حده پورے چه یو ډیر لوئے شکل نے اختیار کړو۔ زه به د دے خبرے اعتراف دلته ضرورکول غوارمه چه په 1990ء کښې چه کله انتخابات اوشول او د انتخاباتو په نتیجه کښې په مرکز کښې د مسلم لیګ حکومت راغے او دلته په صوبه کښې ورسره مونږ مشترکه حکومت جوړ کړو۔ نو هغه واحد یو حکومت وو چه هغه دا آئینی تقاضا په دے طریقه باندے پوره کړله چه خمونږه اصل د منافعے کور چه دے ، خمونږه اصل د نفعے او د ګټے کور چه دے هغه خمونږ د دے صوبے بجلی ده۔ په پاکستان کښې دا خمونږ صوبه واحده یوه صوبه ده چه دے له خدائے تعالیٰ داسے سیندونه ورکړی دی چه دا ځائے په ځائے ته بند اچوے نو دا بجلی جوړوی او داسے بجلی جوړوی چه په هغے اخراجات د نه

اخراجاتو برابر دی۔ چه تهرمل سره او چه ته هغه نوره بجلی جوړه وے په نیوکلئیر طریقه باندے ئے جوړه وے۔ د هغے په مقابله کښ هائیډل بجلی چه ده، دا په ډیرکم ترقیمت باندے کیږی اوپه ډیره آسانه طریقه پیدا کیږی۔ ډیر داسے خایونه دی چه پکښ ډیرپه آسانه بندونه اچولے شوی او په خائے د دے چه ډیر لوئے لوئے بندونه جوړ شی۔ په هغه ورخو کښ مونږ ته یو مشکل پیښ وو چه چونکه خمونږه د صوبے د ټول پاکستان سره د اوبو تقسیم نه وو شوے۔ مونږ آئینی طور په دے پابند وو چه مونږه په خپلو سیندونو، چه خمونږ خپل سیندونه دی د سوات سیند دے، خمونږه پنج کوړه یو بل، څومره سیندونه چه دی مونږ ترے نه بجلی اغستلے شو، په دے سیندونو باندے مونږ چرته بند نه شو تړلے یوه خبنته مو پرے نه شوه ایښودلے، زه به دے ته د هغے حکومت یو بهتره کارکردگی اُووایمه، ډیرتعریف به ئے نه کومه خو یوه بهتره کارکردگی ئے اوښودله چه هغه د پاکستان په تاریخ کښ په شلګونه کلونه پس، چه هغه به خما خیال دے په هغه وخت کښ د دے حکومت، د پاکستان د جوړیدو دوه څلویښت درے څلویښت کاله به شوی وو، په وړومبی ځل باندے کښیناستل د اوبو د تقسیم تصفیه ئے اوکړله۔ مونږ ته ئے دا میدان جوړکړو او دا موقع ئے راله راکړله چه مونږ دے د سبا دپاره د جنریشن پروګرام بخپله طریقه او په خپله صوبه کښ اوکړو۔ په داسے حالاتوکښ چه وسائل پیدا شی مونږ په دغه وخت کښ چه کله د اوبو دا تقسیم اوشو بیا دا مسئله پیخه شوله چه دا خمونږ بجلی چه کومه هائیډل ده دا مونږه جوړوو دلته اودا خمونږه دا بجلی په ټول پاکستان کښ مونږ ورکوو، نو په پاکستان کښ چه څومره

صوبے دی د هغوی خپل وسائل داسے دی ، چه گیس به واخلو ، نور شیزونه به واخلو د هغے آمدن د هغے صوبے خلقو ته خی نو په دے بحث چه شروع شو نو د هغے وخت مرکزی حکومت چه د مسلم لیګ ) حکومت وو او ورسره مونږ په کښې په شراکت کښې وو او دلته صوبائی حکومت کښې هم مونږ په شراکت کښې وو۔ دا په وړومبی ځل باندے د پاکستان په تاریخ کښې د دے صوبے د هائیډل پاور هغه پیسے چه وے یا چه ورته مونږه اوس دلته Net profit وایو دا په وړومبی ځل د دے تعین اوشو۔ د هغے دپاره یو فارموله جوړه شوه او د هغے فارمولے د لاندے هغے پیسے له په آئینی شکل کښې یوه ګرنټی ورکړے شوه او په آئینی شکل کښې هغه پیسے دے صوبے له ورکول شروع شو۔ بحث به پرے ډیر نه کومه خکه چه دَورونه په کښې ډیر راغلل او ډیر پکښې تیر شو۔ په هغه وخت به هم څه دا وایم چه امکانات دا دی چه څومره پیسے مونږ ته ایف سی یا څومره خمونږه حق جوړیدو، ټولے به نه وی راکړے شوے، د هغے نه بعد د پیپلز پارټی حکومت راغلے دے۔ په مرکزکښې هم د پیپلز پارټی حکومت او په صوبه کښې هم د پیپلز پارټی حکومت لکه څنګه چه تیرحکومت وو، په هغے دوران کښې به هم چغے سورے به مونږه هم وهلے لکه څنګه چه نن اپوزیشن چغے وهی۔ داسے پرون مونږ اپوزیشن کښې ناست وو، مونږ به چغے وهلے او دواړه طرفته چه دا چغے مونږه وهو، د هغے یو مقصد او یو منشاء ده۔ هغه مقصد او منشاء دا ده چه مونږه د دے صوبے د حق جنګ اوکړو او د دے صوبے د حق د پاره دے مونږه هر هغه قدم پورته کړو چه مونږ دے د دے صوبے دا حق په کښې محفوظ کړو۔ که نن اپوزیشن لګیا

، مونږ نے ډیر مشکور یو - د ډیرو خبرو نشاندهی کوی - مونږ نے
شکور یو چه مونږته ښائی- مونږ پرون دغلته ناست وو، مونږه دا
ش کوؤ، نه مونږ په بدنیتئی کړے دے - چونکه مونږه په بدنیتئی نه
ؤ نونن مونږ دا نه شو وونیلے چه دوی به دا خبرے مونږته په بدنیتئی
ی- په ډیر روغ نیت ئے کوی، په ښه نیت ئے کوی، ډیر ئے مشکور یو -
مسئله دلته راغلے ده چه په 1991ء کښې یو فیصله اوشواو این ایف سی
ارډ اوشو- بیا آئینی تقاضا داوه چه په هغے باندے به خبرے کیږی او هغه
پینځه کاله پس، هغه پینځوؤ کالو له دا ایوارډ کیږی- پینځه کاله پس به
نوے ایوارډ کیږی- لکه ځنګه چه آفتاب خان دلته اعتراف اوکړو چه
ے کاله تیر شو د هغوی په حکومت کښې او دوی Consensus جوړ نه
ړے شو - صوبےیوځائےکیدے اوصوبو سرونه جنګول او صوبے
بیناستے او صوبو تقسیمونو دپاره فارمولے جوړولے- په دے درے نیم
اله کښې چه ځو پورے د دوی حکومت وو- میټینګ که راغوښتے شوے
ے اوکه راغوښتے شوے نه دے، د دوی په خپل مابین کښې صلاح مشورے
چه وے هغه داسے خائے ته او نه رسیدے چه یو نتیجه ئے اوخی- د هغے
زمی نتیجه څه وه ؟ چه کله پینځه کاله تیر شی نو پینځه کاله پس به
Automaticaly هغه ایوارډ کیدو- ځکه چه دا یوه آئینی تقاضا وه چه پینځه
اله باندے یوه ورځ هم زیاته تیر شوے وے نو هغه د آئین Violation وو-
ه یو خبره باندے زه د آفتاب خان ډیره زیاته پریشانه ووم، چه ما وونیل
خدایه دا دومره خبرے مے واوریدے- څه به کوو چه پاسو د دے خبرو، څه
ه ترے جوړوو ؟ څمونږ هغه مشکل ئے حل کړو چه کله هغه دلته دا

اوونیل چه دا این ایف سی ایوارډ چه دے دا د یو صدارتی فرمان لاندے شوے دے او صدارتی فرمان لاندے چه شوے دے، اوس دا بدلیدے نه شی۔ دا یو آئینی تقاضا ده۔ دا هغه په خپل تقریرکښ اوونیل۔ دلته خمونږ هغه وکټ نے مظبوط کړو۔ دلته مونږ او تاسو هم خبر یواو دا هاؤس هم خبر دے ۔ اپوزیشن هم خبر دے ، دا صوبه او دا پاکستان هم خبر دی چه دا این ایف سی ایوارډ چه کله شوے دے، دا په یومنتخب حکومت کښ نه دے شوے۔ دا یو Care taker government کړے دے او Care taker government چه دے نوهغه نه خما د مفاداتو خیال ساتلے دے۔ نه ئے د پنجاب یا د سندھ د مفاداتوخیال ساتلے دے۔ او بلوچستان خو خما نه هم ورپسے لږه کمتره ده، د هغوی د مفاداتو به ئے څه خیال ساتلےوی۔ نن یقیناً مونږ په دے پوهه یو چه دا کوم ایوارډ چه دے د دے د پاره دا خبره هم آفتاب خان ډیره صحیح اوکړله چه کله موحکومت دلته جوړ شو۔ چه کله حکومت راغے نو حکومت په دے پوهه شو چه دا ایوارډ چه شوے دے دا یقیناً د هغے ایوارډ نه بدل دے ۔ مونږه خو دا هم اوریدلے دی چه هغه تیرایوارډ چه وو نن ئے خلق صفتونه کوی په هغے ایوارډ هم ډیر بےحسابه تنقیدونه شوی وو۔ هر یو ایوارډ چه کیږی په هغے کښ غلطئی او خامئی وی، په هغے کښ هم ډیرے خامئی او غلطئی وی چه دوی ئے نشاندهئی کولے۔ دا نن چه ایوارډ شوے دے په دے کښ هم د صوبے په حساب ، د صوبے د حقوقو په حساب او د جمع تفریق په حساب ډیرے کمئی او ډیرے خامئی شته دے ۔ د هغے مطلب چه مونږه کښیناستو او مونږه په دے سوچ اوکړو، چه دا ایوارډ چه دے ، په ډیرو نقطو داسے لکه څنګه چه آفتاب خان خبره اوکړله، مونږه دا حساب

